**د روسیې د سولې مسیر د ترکستان پر لور؛**

**خو د امریکایي سولې مسیر له زنځیري وژنو تېرېږي**



قطبي خرس (روسیه) د سیاسي ګنګسیت له امله یو ځل بیا د تېر په څېر ډېره ناوخته (د کابل-واشنګټن امنیتي تړون له لاسلیک وروسته) په سیمه کې د امریکا شوم نیت ته متوجه شوې ده. ځکه مخکې یې ګومان کاوه چې امریکا د تروریزم پر وړاندې د جګړې او له نشه‌یي توکو سره د مبارزې په داعیه کې صادقه ده. خو امریکا له کابل سره د امنیتي تړون په لاسلیک د پرلپسې کلونو لپاره په افغانستان کې د خپلې پښې لپاره ځای تثبیت کړ. دا هېواد یې د نشه‌یي توکو د کروندې په توګه وکاراوه، په لوی لاس یې د افغانستان شمال ناامنه کړ، په سیمه کې یې د داعش پروژه جوړه کړه او هڅه کوي چې د ناامنیو څپې د منځنۍ اسیا د هېوادونو په لور وخوځوي. نو روسیې پورتنیو ټکو ته په کتو جدي هڅه وکړه، چې د دغو تحرکاتو په غبرګون کې له طالبانو سره خپلې سیاسي اړیکې ټینګې کړي.

د دغو هڅو په دوام روسیه په دې لټه کې ده، ترڅو د امریکا د سولې له پروسې سره یوه موازي پروسه رامنځته کړي. خو روسیه په دې اړه یو ځل بیا افغانستان له سوریې سره اشتباه کوي او ناسم قیاس کوي، ځکه د امریکا له سیاسي-اقتصادي (استعماري) نظره د سوریې قضیه د افغانستان له قضیې سره ډېر توپیر لري. د افغانستان په قضیه کې امریکا او ناټو ته د چین او روسیې د مهارولو لپاره د دغه هېواد ستراتیژیک موقعیت، د منځنۍ اسیا د هېوادونو تر ځمکې لاندې زېرمو استعمار، خپله د افغانستان بکر معادن او په سیمه کې د خلافت دولت د ظهور د مخنیوي له مخې ځانګړې اهمیت لري، چې د دغو منافعو د ساتنې لپاره به اصلاً د دې قضیې د چارو (جګړې او سولې) سرپرستي چین او روسیې غوندې هېوادو ته پرېنږدي.

خو د سوریې په قضیه کې چې کله امریکا خپل مزدور نظام، د لبنان د حزب الله، د ایران انقلاب د سپاه پاسداران او عراقي، افغاني-پاکستاني ملېشو په وسیله ونه ژغورلی شو، نو روسیه یې هم پکې ورښکېله کړه او کله یې چې درک کړه چې روسیه هم ونه توانېده، ترکیه یې قضیې ته ورننه ایسته او د پاڅون کوونکو د انحراف لپاره یې د سعودي، قطر او ترکیې رول پیاوړی کړ، چې بالاخره د سوریې د مستبد نظام پر ژغورلو او د اهل شام پر مقطعي ماتې یې پای وموند. د سوریې په قضیه کې امریکا روسیه داسې ښکېله کړه، ترڅو چې خپله امریکا ونه غواړي روسیه هېڅکله له سوریې د وتو توان ونه لري. دغه‌راز هره ورځ باید د جګړې درانه لګښتونه ورکړي، چې

د روسيې اقتصاد ته وژونکي زهر ګڼل کېږي. له بلې خوا روسيه د سولې د خبرو اترو له لارې هڅه کوي، ترڅو خپله پښه له سوريې وباسي، په داسې حال کې چې د دغو خبرو اترو اساسي کرښې امريکا په ژنيو او رياض کې ترسيم کړې او اجرايوي تعقيب يې د ترکيې پر اوږو وراچولی دی.

خو په افغانستان کې د امريکا د سولې د پروسې په برخه کې؛ د افغانستان د سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د ځانګړي استازي په توګه د افغانستان، عراق او ملګرو ملتونو لپاره د امريکا د پخواني سفير زلمي خليلزاد له ټاکل کېدو وروسته، نوموړي اسلام آباد، دوحې، متحده عربي اماراتو، رياض او کابل ته خپل لس ورځنی سفر پای ته ورساوه او د افغانستان په قضيه کې له ټولو ښکېلو اړخونو لکه طالبانو، د افغانستان دولت، پاکستان او عربانو سره يې خبرې وکړې او خاص پيغامونه يې ورسره تبادله کړل.

له دې سره جوخت په افغانستان کې ځينې طالب ضد څېرې يوه په بل پسې په مرموزه توګه ووژل شوې. د طالبانو يو سرسخت مخالف جنرال عبدالجبار قهرمان د هلمند په مرکز لښکرګاه کې د خپلو انتخاباتي کمپاينو په دفتر کې په چاودنه کې ووژل شو. دوې ورځې وروسته جنرال عبدالرازق د افغانستان په جنوب کې يو بانفوذه شخص او د پوليسو يو خورا قدرتمند قوماندان چې له طالبانو سره په دښمنۍ کې يې شهرت موندلی و، په افغانستان د بهرنيو ځواکونو له قوماندان سره له ملاقات وروسته ووژل شو.

شاوخوا دوې اونۍ وروسته د فراه ولايتي شورا رييس فريد بختور چې په فراه کې خورا متنفذ شخص ګڼل کېده، د الوتکې د سقوط له امله ووژل شو. نوموړی هغه څوک و، چې پر فراه د طالبانو د خورا سختو بريدونو په مقابل کې تر دومره کچې ودرېد، چې کابو ټولو امنيتي ځواکونو ماتې خوړلې وه او د ولايت مرکز د سقوط په حال کې و، هغه له سقوطه وژغوره. د دغو ټولو وژل شوو کسانو مسووليت طالبانو ومانه.

په داسې حال کې چې د جنرال عبدالرازق قتل له تخنيکي-سياسي نظره ډېره ګونګه او مرموزه موضوع وه، چې د امريکا مستقيم او غير مستقيم رول نه شو پکې ردولی. د افغانستان عمومي افکار د دغه قتل له څرنګوالي او شواهدو دې پايلې ته ورسېدل، چې خپله امريکايانو وژلی. د دغه قوماندان په مړينه داسې موارد شته چې پاکستان، طالبان او اشرف غني ګټه ترې اخلي: هغه د پاکستان لخوا د ډېورنډ پر کرښه د اغزن سيم د غځولو خنډ و، له طالبانو سره په دښمنۍ کې شديد و، حتی د دوی په وژنه او تعذيب کې يې شهرت موندلی و او له اشرف غني سره يې ښکاره مخالفت درلود، چې په راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو کې يې پر وړاندې په جنوبي حوزه کې بالقوه خنډ بلل کېده. نو اساسي پوښتنه دا ده چې امريکا ته بلې کومې مهمې موضوع اهميت درلود، چې د هغې لپاره خپل يو متحد، مخلص او وفادار قوماندان قرباني کړي؟

په افغانستان کې د دا ډول زنځيري قتلونو په دوام د ډېورند کرښې بلې غاړې ته د پاکستان د جمعيت علمای اسلام رهبر او د حقانيه مدرسې وارث مولانا سميع‌الحق، چې د «طالبانو پر معنوي پلار» مشهور و، د پاکستان په راولپنډۍ ښار کې د چاقو او يوه ناشناخته کس په ډزو ووژل شو. د بي بي سي د رپوټ پر اساس د امريکا او افغانستان دولتونو د سميع‌الحق له  د سولې خبرو اترو ته جدي ګواښونه حس کړي وو. نو ورسره په اړيکه کې شول، ترڅو له طالبانو سره د افغانستان دولت د سولې پروسه کې هڅه وکړي. ويل کېږي چې د سميع‌الحق لخوا شين څراغ نه و تر لاسه شوی.

د جنرال عبدالرازق له قتل وروسته د ملاعمر يو مرستيال ملابرادر د خليلزاد د وړانديز په پايله کې د پاکستان له زندانه ازاد شو او پنځه نور طالبان چې مخکې له ګونتانامو زندانه ازاد شوي او نظربند وو، له ټولو بنديزونو او نظربنديو خلاص شول.

دا پرلپسې تحرکات له سیاسي نظره کېدای شي هغې سولې ته لار هواره کړي، چې امریکا یې توقع لري. نو امریکا پر طالبانو د بریدونو له سختولو سره هم‌مهاله له دې ډلې سره خبرې اترې هم پیل کړې دي او د دې پروسې د پرمختګ لپاره یې ځینې طالب زندانیان ازاد کړي. له بلې خوا امریکا د ډېورنډ کرښې په دواړو خواوو کې د سولې پروسې د خنډونو د ختمولو لپاره ملا تړلې او غواړي چې ځینې وسله‌وال مخالفین له دې پروسې سره یو ځای او په افغانستان کې یې د خپل لاسپوڅي حکومت یوه برخه کړي او یو شمېر نور په ځانګړې توګه هغه سرتېري چې په دې پروسه کې رهبري له لاسه ورکوي، له دې پروسې سره په مخالفت له نورو نظامي ډلو سره یو ځای شي، ترڅو په سیمه کې د امریکا خونړۍ جګړه توجیه او دوام پیدا کړي.

نو لازمه ده چې د افغانستان د جګړې سیمه‌ییز او نړیوال اړخونه دقیق درک کړو او پرېنږدو چې یو له بله ډېر د مسلمانانو وینو ته تږي استعمارګران، د افغانستان د خلکو او دلته د ښکېلو ډلو پر برخلیک لوبې وکړي؛ بلکې باید په دې هڅه کې وو چې سیاسي قضیې د اسلامي عقیدې له زاويې درک کړو او په بیدارۍ، د واقعیتونو په بیان او د دغو پروسو په افشا کولو امت د استعمارګرو په دام کې له لوېدو وقایه کړو.

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر-ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**